**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر کمپاین**

**د کشمیر د خپلواکۍ لپاره د مسلمانانو د پوځونو له یو کولو پرته بله د حل لار نشته**

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر یو کمپاین پیل کړ چې سرلیک یې په لاندې ډول دی:**

**(د کشمیر د خپلواکۍ لپاره د مسلمانانو د پوځونو له یو کولو پرته بله د حل لار نشته)**

په دې کمپاین کې د مسلمانانو له پوځونو بلنه کیږي چې کشمیر او د مسلمانانو نورې اشغال شوې ځمکې خپلواکه کړي.

وروسته له دې چې پاکستان د جهاد او نظامي مبارزې له لارې د کشمیر له خپواکولو لاس واخیست او وروسته له دې چې په کشمیر کې یې د مبارزینو له ملاتړه لاس واخیست او وروسته له دې چې مبارزین یې د ترهګرو په نامه تعقیب کړل هند د پاکستان له اړخه ډاډمن شو. که د پاکستان حاکمانو او اوسني نظام کشمیر ته ارزښت ورکولای هند به د دې کار جرات نه وو کړی. همدا کار عرب حاکمانو سرته رسولای چې سرونه یې د یهود دولت په وړاندې ټیټ کړي او اسلام او مسلمانانو ته خیانت کوي چې د مسلمانانو حیاتي قضیې همداسې پاته شي!

د پاکستان د حاکمانو د دې دریځ خلاف، د کشمیر خلک، د پاکستان خلک او په پاکستان کې د وسلوالو ځواکونو مخلص غړي په کشمیر کې د هند اشغال غندي او د کشمیر د خپلواکۍ او له پاکستان سره د یو ځای کېدو په موخه د الله سبحانه و تعالی د رضا لپاره جهاد ته لېوال دي او په خپله وړتیا باور لري چې خپلواکی ته یې رسولی شي، د کشمیر بحران د مخلص رهبرۍ بحران دی چې خلک او پوځ د خپلواکۍ جګړې ته هڅوي او له دې امله اړینه ده چې په پاکستان کې د نبوت په تګلاره د دویم خلافت د تاسیس لپاره باید کار وشي چې د راشده خلافت پوځ کشمیر او ان ټول هند د قران تر حاکمیت لاندې راولي څرنګه چې پېړۍ مخکې وو

**۱۴۴۰ه.ق کال د ذې الحجې ۸ مه**

**۲۰۱۹م کال د اګېسټ ۹ مه**